# الاعلی

**مکی سورة دی ۱۹ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

سَبِّحِ ٱسۡمَ رَبِّكَ ٱلۡأَعۡلَى ﴿١﴾

**د خپل بزرګوار او عالیشان رب نوم په پوره تعظیم او درناوی وستایه.( کله چه دا مبارک آیت نازل شو، پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې په سجدو کې یې ولولئ او د همدغه حکم په تعمیل د هر لمانځه په سجدو کې وایو« سبحان ربی الاعلی».)**

ٱلَّذِي خَلَقَ فَسَوَّىٰ ﴿٢﴾

**هغه ذات چې ( ټول مخلوقات او موجودات یې) پیدا او بیا یې( هر یو په یوه ځانګړی جوړښت سره په غوره توګه) برابر او انډول کړل( لکه چې انسان یې په ښکلی او احسن شکل او څیره پیدا کړی او بیا یې عقل او پوهه او د مسؤلیت پیژندلو احساس هم ورببنلی دی).**

وَٱلَّذِي قَدَّرَ فَهَدَىٰ ﴿٣﴾

**او هغه ذات چې هر شی یې( د یوه ټاکلی تقدیر او پلان په اساس پیدا او د یوه ځانګړی کار او هدف لپاره مؤظف کړی) او بیا یې ورته د هماغې وظیفې د اجرا کولو طریقه او لاره هم ورښودلې( او دنیا ته یې رالیږلی دی،یعنې الله یې هم خالق او هم لارښود دی).**

وَٱلَّذِيٓ أَخۡرَجَ ٱلۡمَرۡعَىٰ ﴿٤﴾

**او هغه ذات چې (شنه او سرسبزه) چمنونه او څرځایونه( نباتات) یې راشنه کړی.**

فَجَعَلَهُۥ غُثَآءً أَحۡوَىٰ ﴿٥﴾

**او بیا یې( د څه مودې په تیریدو) بیرته په تورو او وچو بوسو تبدیل کړی دی( یعنې که په ژوند کې بهار شته نو خزان هم شته).**

سَنُقۡرِئُكَ فَلَا تَنسَىٰٓ ﴿٦﴾

**( ای پیغمبره! لکه څنګه چې مونږ هر شی په تدریج او حکمت سره د اکمال درجې ته رسوو) تاته به هم (قرآن د جبرئیل په ژبه داسې) ولولو چې ته یې هیڅکله بیا هیر نه کړی( او ټکی په ټکی به دې په حافظه کې محفوظ وی).**

إِلَّا مَا شَآءَ ٱللَّهُۚ إِنَّهُۥ يَعۡلَمُ ٱلۡجَهۡرَ وَمَا يَخۡفَىٰ ﴿٧﴾

**غیر له هغو( آیتونو) چې الله تعالی یې ( د منسوخولو او یا ستا له حافظې نه د ویستلو او هیرولو) اراده وکړی، بیشکه چې الله تعالی ته (ستاسو) ښکاره( افعال) او پټ (استعدادونه) ډیر ښه معلوم دی( نو ته هم د قرآن د هیرولو اندیښنه مه کوه).**

وَنُيَسِّرُكَ لِلۡيُسۡرَىٰ ﴿٨﴾

**او تا ته مو( د قرآن د زده کړې، شریعت پوهنې او امت ته د دین د تبلیغ ټولې لارې چارې) آساني کړی دی.**

فَذَكِّرۡ إِن نَّفَعَتِ ٱلذِّكۡرَىٰ ﴿٩﴾

**نو( هغو) خلکو ته وعظ او نصیحت وکړه  چې( د نصیحت د اوریدو هیله ترې کیږی او) ترې ګټې اخستو ته تیار دی.**

سَيَذَّكَّرُ مَن يَخۡشَىٰ ﴿١٠﴾

**څوک چې له الله تعالی نه ویریږی ډیر زر پند او نصیحت منی.**

وَيَتَجَنَّبُهَا ٱلۡأَشۡقَى ﴿١١﴾

**او څوک چې تر ټولو بدبخت دی لاس ترې واخله.**

ٱلَّذِي يَصۡلَى ٱلنَّارَ ٱلۡكُبۡرَىٰ ﴿١٢﴾

**هم هغه به لوی اور ته  وردننه کړی شی.**

ثُمَّ لَا يَمُوتُ فِيهَا وَلَا يَحۡيَىٰ ﴿١٣﴾

**هلته چې نه به مری او نه به د ژوند په خوند پوهیږی.**

قَدۡ أَفۡلَحَ مَن تَزَكَّىٰ ﴿١٤﴾

**بریالی او نیکمرغه دی هغه څوک چې( له ظاهری او باطنی نجاست نه) ځان پاک ساتی.**

وَذَكَرَ ٱسۡمَ رَبِّهِۦ فَصَلَّىٰ ١٥

**او د خپل رب نوم یاد کړی( د لمانځه تکبیرووایی) او بیا لمونځ اداء کړی.**

بَلۡ تُؤۡثِرُونَ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا ١٦

**خو تاسو( لجوج کافران د ابدی نیکمرغی په لاره نه ځی) بلکه د دنیا ژوند مو خوښ کړی دی.**

وَٱلۡأٓخِرَةُ خَيۡرٞ وَأَبۡقَىٰٓ ١٧

**(په داسې حال کې چې) آخرت ډیر غوره او تلپاتې دی.**

إِنَّ هَٰذَا لَفِي ٱلصُّحُفِ ٱلۡأُولَىٰ ١٨

**دا( حقایق) په پخوانیو آسمانی صحیفو کې ثبت دی.**

صُحُفِ إِبۡرَٰهِيمَ وَمُوسَىٰ ١٩

**د ابراهیم او موسی په صحیفو کې.**

**« تمت سورة الاعلی بفضل الله و رحمته»**

**========================**